د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند بامیان، دایکندي او غور ولایتونو ته سفروکړ، په یادوولایتونو کې یې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو له لوري د یتیمانو کورنیو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کولو له څرنګوالي څخه ارزونه وکړه

همداراز د مجردو شهیدانو کورنیو او یو شمېر معلولیت لرونکو وګړو سره یې له نږدې وکتل د هغوی ستونزې او غوښتنې یې واورېدې او ورسره یې یوه اندازه نغدي مرستې هم ترسره کړې.